مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۱۰/۰۵

# موري مننه چې ویده دې کړمه!

## یو نه زړېدونکی یاد،
## یوه نه تمامېدونکي خواشیني



بېګاه مې خوب لیده ماشوم یمه او مور غواړمه

ږلی باران، لار رانه ورکه وه او کور غواړمه

بېګاه په خوب کې وم جګ شوی

روان شوی وم په بله باندې

سر مې په وره و لګېدلی، هېڅ پوه شوی نه وم

بیا مې مور، مور ویلې وو

چا څملولی وم، بنه درونډ ویده وم

سهار چې ویښ شوم

تر برستنې لاندې ورو مې ووې:

موري مننه چې ویده دې کړمه!

چا غږ ونه کړ

چې کټل مې نه وه

په بیره پوه شوم چې ماشوم نه یم او مور هم نشته

مور ډېره، ډېره لرې، لرې رانه تللې وه نور

۲۰۱۸/۱۱/۲۰
هېدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ